# لاَ يُصَلِّي أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ شَيْءٌ». "له تاسو څخه دې هېڅوک په یوه جامه کې لمونځ نه کوي چې په اوږو يې هېڅ شی نه وي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «لاَ يُصَلِّي أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ شَيْءٌ». "له تاسو څخه دې هېڅوک په یوه جامه کې لمونځ نه کوي چې په اوږو يې هېڅ شی نه وي".
[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څوک لدې کار څخه منع کړی چې په یوه جامه کې لمونځ کوي او د اوږو او غاړې تر منځ ځای يې لوڅ وي او هېڅ شی يې پرې نه وي اچولی چې اوږې يې پټې کړي؛ که څه هم اوږې عورت نه دی، خو پټول يې د عورت د پټولو لپاره اړین دي او پدې سره الله تعالی ته په ښه توګه درناوی او تعظیم کېږي؛ کله چې بنده د هغه پر وړاندې ودرېږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10639